AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۴/۰۵/۰۷

# د پوهنتون خاطرې

## (۱۹)




مور چې په سرو سترګو وطن پرېښوده؛ نو زه ډېر کوچینی وم؛ خو هغه نیمه شپه مې هیڅ نه هیرېږي چې له کوره راووتلو: بیرته مې خپل کلي، د کور دیوالونو او شاوخوا ونو ته کتلې لکه د ټولو له مریو چې تورې منګولې راتاوې وي او چیغې ترې بیرون راوتلو ته نه پرېږدي. ما لیدل چې هر دیوال، هره ونه او هر کاڼی زما په خوا را روان دی او همدا نارې راته وهي:

و هلکه مه ځه! "مه ځه رانه، هسې نه چې زړه درپسې واچوم"

...خو زه د زمان جبر په مخه کړی وم. شاته شاته مې کتلې او مخکې مخکې مې په نه زړه قدمونه اخیستل.

چې کډوال شوم او په سپیره کیمپ کې مو واړول؛ نو ایله د ښوونځي عمر ته برابر شوم او د ښوونځي په لور مې کوچیني ګامونه پورته کړل. ښوونځی مو تر یوې سترې خیمې (تجیر) لاندې و. د ګڼو ټولګیو هلکان به تر همدې یوه تجیر لاندې پر شنو ترپالونو ناست ول او یو شور به جوړ و.

اول مې داسې فکر کاوه چې ټول ښوونځي به تجیرونو لاندې وي؛ بیا چې مې د ځایي خلکو ښوونځي، د هغوی منظم یونیفرم ولیده؛ نو سخت یې ناهیلی کړم.

په هرصورت؛ زموږ د پوهنتون مرکزي لیلیه یوه نظامي مرکز ته پاتې کیده. په وچ ډاګ کې بلاکونه جوړ شوي ول. فقط د ځینو مخې ته به شنه بوټي ول او له ماښام پس به شب بو (رات کې راني) ګلونو، لمن لمن عطر شیندل؛ نور هیڅ شنه ساحه نه وه. خبره خو به په اوړي کې لاپسې سخته شوه. له اتاق بیرون د ناستې ځای نه و او اتاق کې ګوزاره له حده پورته سخته وه .

زموږ کوټه کې شپږ دوه منزله چپرکټونه ایښي ول. هر یو به خپل کټ کې لکه بې برخلیکه بندیان، ګډوډ او حیران حیران ناست وو. پکی به مو چالان کړ؛ خو پکي به د ساړه باد په ځای اور شینده. بیرته به مو ګل کړ او له دې سره به په خولو له خیشته شویو کالیو داسې تپونه پورته کیدل لکه د موټر ماشین چې ګرم راشي.

چې ښنګه به د مازیګر ځلور بجې شوې، د دیوالونو سیورې به لږ لږ را وګرځیدل. زموږ د اتاق شاته یو میداني او بیا لږ وړاندې یو کوچنی لښتی او بیا د احاطې لوړ دیوال و. زه به د همدې دیواله سیورې ته کیناستم، پښې به مې راټولې کړې، ځکه لمر به لا پوره تللی نه و او سوزول به یې کول. د ویالې له غاړو به زهرجن ماشې لکه اس را یلې، الوتکې را والوتل او د پښو په پنجو به یې لکه د غ ز ې ترانګه، بریدونه شروع کړل. تر څو چې به مو ځواب ورکاوه، زهر به یې شیندلي ول او پنجو به خارښت شروع کړی و. وروسته، به ورو – ورو سیورې ډیریده او بیا به ما هم د مطالعې لپاره ځای بدل کړ.

کله چې مې وطن کې په لومړي ځل د ننګرهار پوهنتون پراخه او د تکې شنې ساحې لرونکې لیلیه ولیدله؛ ما ویل دا څومره بختور دي. او چې کله به مې د همدې لیلیې د ځینو محصلینو شکایتونه واوریدل بیا به مې ویل،رښتیا چې:

"إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ"

یعنې انسان د خدای ج د نعمتونو په وړاندې ناشکره دی.

خو، د هر ځای خپل خپل مشکلات وي او زموږ نصیبونه خو له مشکلاتو نه خلاصیږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ